فرخنده حلول سال ۱۳۷۴ هجری شمسی را به فرد فرد هموطنان مسلمان میمون ومبارك میخواهیم

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شماره مسلسل (۹۱۵) سال هفدهم - شماره (۱) سه‌شنبه اول حمل ۱۳۷٤ هـ ش - (۲۰) شوال المکرم ۱٤۱۵ هـ ق (۲۱) مارچ ۱۹۹۵م

قیمت (۱۵۰) افغاني (۲ روپیه)

PROPERTY AOKRU S 1789

٥٤ تنه افغانان له سعودي عربستان نه وايستل شول

په سعودي عربستان کي څلور پنځوس تنه میشته افغانان د پولیسو لخوا ونیول شول او وروست بیا له هغه هیواد نه وایستل شول.

دسعودي نه په رارسیدلو رپوټونو کي ویل شوي چي ایستل شوي کسان دعمري دویزي په ذریعه دلته راغلي وو چي وروسته بیا د مزدوري په خاطر دسعودي عربستان په مختلفو ښارونو کي په کاربوخت وو .

ویل کیږي چي دافغانستان دروان بحران او په هیواد کي دناامني اوبي کاري له وجي څني افغانان دعمري دویزي په تر لاسه کولو سره سعودي عربستان ته ځي اوهلته بیا په مزدوري بوخت شي خو دسعودي پولیس هغه چا ته چي دعمري اویا حج دویزي په واسطه هغه هیواد ته لاړشي هڅوي ته دمیشته کیدو اودکاروبار اجازه نه ورکوي.

ایران براي عودت مهاجرین افغان ضرب الاجل تعیین نمود

تهران - ۲۸ حوت:

اداره کمك براي مهاجرین وحکومت ایران به توافق رسیده اند تا امکانات عودت پنج صدهزار مهاجر افغان را به کشور شان تابرج مارچ سال آینده فراهم سازند . به گزارش روزنامه نواي وقت سکرتر وزارت داخله ایران احمد هاشمي اعلان نمود، براي همین مقصد اداره ملل متحد دوازده ملیون دالر تخصیص داده است . در خبر علاوه شده است که اگر مهاجرین افغان تا تاریخ موعود رضامندانه به وطن خود برنگردند مقامات ذیربط براي انجام این امر به زورمتوسل خواهند شد.

براى پنجمین بارعملیه انتقال قدرت درکابل به تعویق افتاد

جلال آباد - ۲۹ حوت:

محمود مستیري نماینده خاص سرمنشي ملل متحد روز یك شنبه جهت بحث وگفتگو با مقامات ولایت ننگرهار واردجلال آباد شد .

خبرنگارشهادت گزارش میدهد، محمود مستیري همراه با هیئت چهار عضوي افغاني حوالي ظهرروز یکشنبه وارد جلال آباد گردید وباجناب مولوي محمد یونس خالص ، محترم حاجي عبدالقدیر والي ننگرهار واعضاي شوراي جهادي ننگرهارروي طرح پیشنهادي جدید خود جهت حل بحران افغانستان بحث ومذاکره نمود.

گزارش خبرگزاري ها حاکیست محمود مستیري اعلام داشته که هفته آینده وسیله طیاره به کابل سفرخواهدکرد تاهرباي رئیس اداره کابل روي میکانیزم انتقال قدرت بحث وگفتگو نماید .

نماینده هاي محمود مستیري قبلاً با گروه طالبان دریکتیا و بااسمعیل خان در هرات

ص(۳)

قاضي حسین احمد امیرجماعت اسلامي پاکستان :

راه‌حل بحران افغانستان مذاکره است

اسلام آباد - ۲۹ حوت :

محترم قاضي‌حسین احمد امیرجماعت اسلامي پاکستان طی مصاحبه مطبوعاتي باخبرنگاران دراسلام آباد پاکستان اظهارداشت:

مسأله افغانستان ازطریق جنگ نه بلکه ازراه برادري وتفاهم حل میگردد . وي افزود : رباني قبلا ازوي خواسته بود که رهبران جهادي افغانستان رابراي مذاکرات وگفتگوباهمدیگرآماده گرداند .

رهبرجماعت اسلامي پاکستان گفت : که درآغازمذاکراتش با برادرحکمتیار، استادسیاف ، مولوي محمد یونس خالص ، مولوي محمد نبي محمدي ونماینده طالبان دیداروگفتگوخواهدکرد وآنانرابراي صلح وتفاهم باهمدیگرآماده خواهدساخت .

محترم قاضي حسین احمد افزود که قبلا بااستادرباني تصریح کرده بودکه مسأله افغانستان ازطریق جنگ نه بلکه ازراه مذاکره وتفاهم حل میگردد .

دننگرهار ولایت دحزب اسلامی عالی شورا اود اهل نظر غړو غونډه جوړه شوه

جلال اباد ۲۸ حوت

دیکشنبي په ورځ دننگرهار ولایت دحزب اسلامي اجرائیه شورا دمخکني فیصلي په اساس ددغه ولایت دعالي شورا اواهل نظره وروتوړچي تعداد يي ۱۰۰ تنو ته رسیده بوه غونډه جوړه شوه .

دننگرهارولایت دحزب اسلامي یومسئولي منبع په حواله غونډه دڅومبارکو ایاتونو په تلاوت سره دسهار په (۹) بجوپیل او وروسته فضل حق مجاهد دننگرهار ولایت امیردغونډي برخه والو ته افتتاحیه وینا وکړه .

(۳)مخ

آقاي محقق سخنگوي حزب وحدت :

طالبان مسئول قتل صدهاانسان بی‌گناه درافغانستان‌اند

کویته - ۲۸ حوت :

آقاي محقق یك سخنگوي حزب وحدت اسلامي اظهارات طالبان درمورد به شهادت رسانیدن عبدالعلي مزاري رهبر این حزب را دروغ خوانده آنها رامسئول این حادثه اسقبار دانسته وگفته است که گروه طالبان مسئول قتل صدها انسان بیگناه به شمول استاد مزاري درافغانستان میباشد.

ص(۳)

عبدالستار سیرت دیوي مرکي په ترڅ کي :

دنمایندګانوانتخاب نه پس به دشورا د جوړیدو نیټه اوځاى اعلان شي

دکب ۲۹ نیټه

دملګرومللو دافغاني هیئت عبدالستارسیرت دامریکا رغ سره دیوي تلیفوني مرکي په ترڅ کي ویلي : چي دقدرت دانتقال اودموقت حکومت دجوړولو له پاره ددغه هیئت کوښښونه جاري دي

ده وویل چي دغه هیئت په تیري یوي میاشتي کي دکابل ، چهارآسیاب قندهار،مزارشریف ،خوست ، جلال آباد او په هرات کي دذیعلاقه و اړخونو او دولایتونو

(۳)مخ

پیام تسلیت

دفترحزب اسلامي افغانستان بمناسبت رحلت حاج سید احمد خمیني فرزند امام خمیني (رح)ضمن ارسال پیام هاي جداگانه بدین شرح عنواني آیت الله العظمی خامنه اي رهبر جمهوري اسلامي ایران و حجة الاسلام والمسلمین هاشمي رفسنجاني رئیس جمهور آنکشور به تهران مخابره نمود .

« ارتحال نابهنگام عالم مجاهد ومبارز نستوه حجة الاسلام والمسلمین حاج سید احمد خمیني رحمه الله فرزند امام راحل ، مایه تأثر عمیق بنده گردید . خداوند بزرگ رامستدعي ام که به جنابعالي وملت مسلمان ایران صبرو تسلیت وبراي آن مرحوم مغفرت نصیب فرماید . »

بااحترام

حکمتیار

امیرحزب اسلامي افغانستان

زندگینامهٔ مختصري از رهبرشهید ، عبدالعلي مزاري

ص(۳)

دطالبانوځواکونه‌په‌ریشخور،خیرآباداوچارآسیاب‌کی‌له‌بشپړی ماتی سره مخامخ شول

• دکابل اداري ځواکونو په چارآسیاب کی له طالبانو نه زیات شمیر ټانکونه اودرنی وسلی نیولی دی

• په میدانښارکي دطالبانو اودکابل اداري دځواکونو ترمنځ سخته جګړه روانه ده

• طالبان غواړی خپلی مورچی په لوګرکی پیاوړی کړی

کابل دکب ۲۹نیټه :

دکابل ښار ته به رارسیدلي خبرونو کي ویلي شوي کله چي پرون دیکشنبي په ورځ دطالبانو ځواکونه دکابل اداري دځواکونو په مقابل کي دریشخور ، چهار آسیاب اوخیرآباد په سیمو کي له ماتي سره مخ شول او له هغه ځاي نه بي دلوګر پر لور عقب نشیني وکړه . اوس دکابل اداري ځواکونه په میدان ښارکي دطالبانو په ځواکونو باندي خپلو عملیاتو ته ادامه ورکوي.

په خبرکي ویل شوي پرون دیکشنبي په ورځ سهار وختي له دري ورځو پرله پسي بمباریو وروسته دکابل اداري ځواکونو خپل ځمکني تعرضات ددري خواونه دطالبان په مورچو (ریشخورو - خیر آباد اوچهارآسیاب) باندي

(۳)مخ

درمکه مکرمه حین اداي عمره :

فاروق احمد خان لغاری ومحمد نوازشریف باهمدیگرملاقات کردند

• درقتل دونفر سفارتکار امریکایی استخبارات امریکا دست دارد ص(۳)

بنام خدائیکه بي اندازه مهربان ونهایت بارحم است

سرمقاله

دملت هیلی په نظرکی ونیسئ

دایومنل شوي حقیقت دي چي دافغانستان لانجه دجنګ اوزورله لاري نشي حل کیداي دربوکالو زورآزمایلواوزوګیریوداخبره ثابته کړه چي دجنګ له لاري یولوري هم بشپړبرلاسي ترلاسه نکړي ، که یوه ورځ لڅوکیلومتره پرمختګ وکړي نوسباته په شاتګ ته مجبوریږي نوځکه خو ددریو کلو په اوږدوکي یولوري هم فاتح نشو ، بلکي داقتداراوبرلاسي په لالچ کي دافغانستان مسلمان ملت ته ئي نه جبرانیدونکي تلفات اوتاوانونه واړول اوپه زروګونو بي ګناه انسانان دقدرت غوښتني قرباني شول

پدي کي هیڅ شك نشته چي دافغانستان کړیدلي او ربړیدلي مسلمان ولس دجهادي مشرانو دغه ناروااوبي ځاي رقابت ته دخفګان په نظرګوري او له خپلو جهادي مشرانو نه غواړي چي له دغوناروا اوبي ځاي ضد اورقابت نه لاس واخلي اوپرځاي داسلام داعلا اودافغانستان مسلمان ولس دهوساژوند اوآرامي په خاطریوبل ته داخوت ، همدردي اوخلوص لاسونه ورکړي ، پداسي کولو سره نه یواځي داچي د تولو جهادي مشرانو محبوبیت دمسلمان ولس په منځ کي زیاتیداشي بلکي د دوي سیاسي بقاأهم استحکام پیداکوي ، دجهادي مشرانو رقابت خود خواهي اوجنګ له لاري اقتدارته درسیدو مسابقه پخپله دوي اوهم دافغانستان دخاوري تمامیت ته لوي نقصان رسولي شي داسلام اودافغانستان دښمنان چي له لمړي ورځي نه داسلامي تحریك دتکولو اودافغانستان دسالمیت اویووالي دختمولو په لټه کي دي راز رازنوموته نوي نوي فتني رامنځ ته اوله دي لاري خپل شوم مقصد ته رسیدل غواړي استعماردي زورنلري چي نیغ په نیغه یوځي میدان ته راودانګي بلکي کوشش کوي چي دامقصد پخپله دافغانانو دجنګولواودیوبل دختمولوله لاري ترلاسه کړي ، د دریو کلو جنګو نونه داحقیقت هرافغان ته ثابت شوي چي په افغانستان کي دتنظیمونو ترمنځ یوځي مسابقو اووژنو لوي اثرپخپله دافغانستان پرمسلمان ملت پریوتي دي هیواد اوولس له فلاکت اوتباهي سره مخامخ شوي‌ته دښمن ، هغه له لري دافغانستان دمسلمان ولس تنداره په مرګ اوتباهي خوښي کوي ، دښمن دهغي ورځي په انتظارکي دي چي دافغانستان مسلمان ولس پخپل منځي جګړه کی دومره کمزوري شي چي بیاته داستعمارپرخلاف دجنګ اوپاڅون توان ونلري اوبالاخره پخپله د استعمارپه پنجه کي دمرغي پشان راګیرشي .

دافغانستان مسلمان هیوادوال په داخلي جنګونو کي یوپربل باندي بري اوپرمختګ ته د درښت اوخوشحالي په نظرکي نه ګوري بلکه دجهاد ي تنظیمونو ترمنځ نښتي اوپرځي رقابتونه غندي ځکه چي پدي کي له دواړو اړخونو ته دافغانستان دمسلمان ولس بي ګناه خلك مري او ملکي سرمایه اودارایي له منځه ځي .

جهادي مشرانوته پکاردي چي یوځل بیاپخپلوعملونوکي نوي تجدیدنظروکړي اوددریو کلو ترخوتجربونه عبرت واخلي چي هغوي پدي اوږدوخت کي داسلام اوهیواد له پاره له تاوان پرته څه ګټه ورسوله !! ملت ئي څومره خوشحال کړ او ددښمن آرمانونه ئي څومره پوره کړل !! دځه شك پرته دومره اوږدوخت کي‌چلت ته له تباهي نه پرته بل څه ګټه نه ده رسیدلي اواصلي ګټه دښمن پوره کړیده ، که خداي مه کړه دامرجوده حالت تغیرونه موهي اومشران خپل ایماني اواسلامي مسؤلیت ته متوجه نشي نونه به افغانستان آزاد پاتي شي اونه به مشران خپله سیاسي بقاوساتلي شي ، ملت نن هم خپلوجهادي مشرانو ته دعزت اووقارپه نظرګوري اوهمداهیله ترینه کوي چي (۱۷) کاله مخکي خپلي کړي وعدي پوره کړي ، له خودخواهي اوانحصارطلبي پرځاي خودګذري عفوه اورحم ته ترجیع

(٤)مخ

به گزارش کمیسیون جنایات جنگي دربوسنیا :

صربها (۲۵۰) هزارمسلمان رابه شهادت رسانیده اند

صربها بانقض مجدد توافقنامه آتش بس دربوسنیا هرزه گووینا شب شنبه حملات گسترده خود را بالاي شهرمسلمان نشین بیهاج آغاز نمودند .

به گزارش خبر گزاري جمهوري اسلامي صربهاي بوسنیا باهمکاري صربهاي کروشیا از خطوط دفاعي مسلمانان درشرق شهر ویلیکاکلا دوشاعبور نموده بخش هایي از این منطقه رابه تصرف خود در آورده وبه حملات خود بالاي شهر بیهاج ادامه میدهند.

یك منبع سازمان ملل در زاگریب با تائید این خبر اعلام نمود که نیروهاي این سازمان درطول (۲٤) ساعت گذشته چندین مورد نقض آتش بس از جانب صربها راثبت نموده است.

قرار یك گزارش دیگر کمیسیون جنایات جنگي در بوسنیا اعلام کرد از آغاز جنگ دربوسنیاهرزه گوینا تاکنون (۲۵۰) هزارمسلمان بدست صربها کشته شده ، یك ملیون وهفتصدوسي هزارتن آواره و (۱۱) هزار نفر دیگر مفقود الاثر شده اند براساس همین گزارش صربها به تعداد (۲۰۷) باب مسجد وکلیسا و (۲۳۰) مدرسه و (۱۰۷) مرکز طبي را کاملاً بوخاك یکسان کرده اند.

دردرگیري هاي غرب افغانستان

نیروهای اسماعیل خان بعضي مواضع طالبان رامتصرف شدند

• ولایت نیمروز به تصرف گروه طالبان درآمد

کویته - ۲۹ حوت :

نیروهاي تحت فرمان اسمعیل خان درحملات متقابل علیه طالبان برخي ازمناطق تحت کنترول آنها را درولایت فراه متصرف شدند .

گزارش هاي رسیده از کویته حاکیست، صبح روز دوشنبه نیروهاي اسمعیل خان ازاستقامت اناردره علیه مواضع طالبان یورش برده تا دوراهي فراه رود پیشروي نمودند . درگزارش شمار دقیق تلفات وخسارات طرفین درگیرمشخص نشده اما گفته شده که تلفات

ص(۳)

سخن روز

به مناسبت حلول سال نو :

کی پاییزما بهارمیشه ؟!

ذبیح الله «قریشی»

وزش نسیم شمیم بهار، برگونه هاي زرد وزعفراني «کودکان » پدرگم کرده ومقدم «عروسان » بیوه بوسه میزند و لبخند ملیح برسینه مادران داغدارمرهم نهاده ، دل «پدران » قامت خمیده وفرزند ازدست داده راتسلي مي بخشد !!

بهارسروده آزادي» رابراولاد رنج کشیده، انسان مي نوازد . وبه رسم تعظیم برگورکشته شدگان بیگناه وطن دسته، لاله مي نهند !

بهارطلسم پاییزوپاییزیان رامیشکند وپرده ي مکدروغبارآلود ظلمتکده مستکبران رامیدرد . وبهاردرکوخ کوخنشینان بینوا، نواي فرحت مي نوازد وچون شهاب «سمینگون» و «طلایي » بردل تیرگي ها چیره مي شود ازعدل ودادسخن میگوید وبره کوخ » و« کاخ » یکسان سرمیزند !!

بهار، آري بهار، به آرزوهاي خشکیده وبربادرفته اولادآدم جان تازه مي بخشد ونسیم دلاویزش سخاوتمندانه عطرلاله مي پاشد ودرمزارداغدیدگان وارسته سرود« لاله آزاد » راجاودانه سرمیدهدوازبیداد بیدادگران ناله میکشد

«باغبان چون لاله راافگندازگلشن برون
گفت این غمدیده یاد ازداغداران میدهد »

خلاصه بهاربیك «آزادزیستن » و « آزاد مردن » رابدست لاله مي بخشد و لاله بیباکانه سرود آزادي وضداسارت راسرمیدهد ... !!

امادرکشورما ، سالهاست که بهارانیس خون است وازآتش وخون مي گوید و پیك ویراني چمنزاران سرسبز، آتش سوزي گلستانها وفرارعندلیبان خوش نوارا مي آورد . ازخون وآتش ، ضجه وفریاد ، ظلم واستبداد ، وحشت و اختناق وبیدادگران خداناشناس واجنبي پرستان حکایت داشته است !!

دربهاران پار، ورق ورق لاله هاي خونین رادرسوزوساز، خون وآتش ، ناله وافغان ، وصال وفراق مي یافتیم که هرورق آن خواهان عدل وانصاف بود ، ونفرت ازستم داشت . وهریك آن و ورق پاره ها ، حدیث آزادي وحریت راکه درجنگ ومقاومت حاصل مي شود ، به گوش چراغ بدستان آزادي زمزمه میکرد وآزادگان رابه میدان رزم دربرابرغول کمونیزم مي خواند !

چندسالي است که مکتم شکوهمند بهار، هنگامي درمیهن ویران ما مي رسد که آتش افروزان سفاك ازگلشن «وطن» ماراه فـرارگرفته ودررزمگاه شکست خـورده انـد .بـااطفاي آتش دشمن ، گمان مي شد که دیگربهاردرکشوربلاکشیده مارنگ دیگروسروش دیگرخواهد داشت : آتش وخراش تانکهاي غولپیکر، هواپیماهاي وحشتزا ، فروپاشي سقف کوخها ، افغان بتیمان بینوا ، فریاد جانسوزبیوه زنان بیگناه دیگرطنین اندازنخواهد بود ، وبرکاخ وکوخ ، باغ وراغ ، دشت ودمن شراره هاي آتش زبانه نخواهد کشید . دیگرهمیش ازدامان مخملین وطن نگهت گل «آزادي » ، «برادري » ، «همنوایی» ، «همکاري» ، «یکجهتي » به مشام «مهاجران »خسته دل درگورستانهاي سوزان خواهد وزیدوصفحه یی ازعمران ، آبادي وهمکاري وایثارین تنظیم هاي جهادي که یك عمربراي دست یازیدن به «بهار» آزادي ، «خون » دادند ، «عذاب » کشیدند ، «زخم زبان» ایام غربت راچشیدند ، آغازخواهد شد .

به این گمان بودیم که بخاطر«حراست » و«پاسداري » ازصفحات طلایي وقیمت بهاي «جهاد » برادران مجاهددست بدست هم داده ، فراق وشقاق وجدایي و بی اعتمادي با «هدیه» الهي «آزادي » ازکیان ما براي همیش رخت خواهدبست .

هیهات که این همه خوش باوري ها وامیدها ، دراثرغفلت ، خود پرستي وکوتاه نظري به سنگ «یأس » و«ناامیدي » کوبیده شد ، جنگ ویرانگربارسربرآورد وبرادرکشي ادامه یافت . افراد ودسته هایی که گلستان «وطن » رابدست تند باد « پاییز» داده وگل هاي «فرزندان نهضت » راپرپرنموده بودند ، بجاي آنکه به محاکمه کشانیده مي شدند ، درآغوش ها خسپیده وبعداز اندك مدتي غایله ها آفریدندومن وتو آري برادرا درآتش نفاقي که بنام این وآن دسته هاي نفوذي وفسادافروخته اند ، یکجامیسوزیم !! وصفحات طلایي دوران جهاد که به خون برادران شهید ما رقم جاودانگي خورده است یکی بي دیگربرگ برگ شد ، بدست فراموشي سپرده مي شود !!

پس بیایید که درخجسته «بهار» امسال که آغازسال نو زندگي ماست صفحات جنگ ، ستیز ، رقابت منفي ، دشمني را که جزقتل وویراني ، ... به بارنمي آورد باآب محبت ، نداي برادري ، وحدت ویکپارچگي شستشو بدهیم وبه پیغام سرکشیده ازگورکشته شدگان بیگناه وطن که بدون شك همه «مجاهدین » راندا مي دهد که گل دسته هاي «آرمان » ماراکه با «خون » گرم مان رنگ گرفته است ، به تند باد خودخواهي ، جاه طلبي وتنگنظري پرپرنه سازید ، گوش دهیم !!

آري برادرمجاهدم ! بیاکه گلشته هایي را که ازآن بوي نفاق وشقاق به مشام میرسد، فراموش کنیم وصادقانه دفترچه «سال نو » خویش رابا شکست مرزهاي «تنظیمي »ونابودي «تعصبات نژادي » «قومي » ، «لساني » و «منطقوي » رقم هستي بزنیم وبردل ودماغ وطنداران خویش تخم «اتحاد » ، «وحدت» ، «همدلي » ، «همکاري » و«شمیم اعتماد » بپاشیم .

بیایید که درنوروزامسال هدیه گرانبهاي « حکومت اسلامي » و «پایان جنگ » رابراي مردم رنج کشیده وعذاب دیده خویش که یك ونیم دهه به امیدآن درخاك وخون تپیده و «محرومیت » هاکشیده اند ، اهدا نماییم .

چه بهترتاازلابلاي جیحون پرتلاطم «خون» وپارچه هاي «آهن » و «آتش » و«دود » و«باروت» هرچه زود ترگذرکنیم وگل دسته هاي «اعتماد » و«برادري » رادربهارامسال با خون دل «آبیاري » نموده ، بدین ترتیب «پاییز» وطن را «بهار» سازیم ...

په کویټ کي دتیلوکارګرانو په اعتصاب لاس پوري کړ

کویټ دکب ۲۸ مه :

په کویټ کي دتیلو، په سلهاو کارګرانو په اعتصاب لاس پوري کړي دي ،مګر ددي هیواد د تیلو مسئولین وایي چي ټوموړي اعتصاب دتیلو په عایداتوکومه منفي اغیزه نه شي کولاي .

دفرانسپرس دخبري آژانس دخبرله مخي دکویټ دتیلو شرکت وایي د اعتصاب کوونکو کار ګرانو پرځاي به نور کار ګران وګومارل شي ترڅو دتیلو تولید چي په ورځ کي دوه ملیونه بیرله کیږي په خپل حال پاتي شي .

مګراعتصاب کوونکي وایي چي دکویټ دتیلو عایدات به ډیرکم شي .

محمود مستیري د بینن سیوان په پله :

دسولی پروسه اوکه دټمسخربل پړاو!!

آیا رښتیا هم دقدرت انتقال ممکن دی ؟

په تیریسي — استاد سعید — ۲

په هر صورت حزب اسلامي په دي وتوانید چي دکابل په جنوب کي مهم مرکزونه ترلاسه کړي اودحزب اسلامي امیر انجنیر حکمتیار هم دکابل په جنوب کي د چارآسیاب تعلیمي غونډ خپل فرعي مرکز وټاکه . په چارآسیاب کي دحکمتیار موجودیت د سولي اوتفاهم له پاره ټولي دروازي خلاصي کړي . څکه د چار آسیاب اودکابل مرکز ترمنځ ټوله فاصله نژدي ۱۵ کیلومتره حسابیږي او د سولي ټولو هیئتونو او هم پخپله داستاد رباني او انجنیر حکمتیار د لیدلو کتلو اوتې تفاهم په خاطر بهترین ځاي و.

خلته د حزب اسلامي موجودیت په کابل کي ائتلافي اداره دي ته هڅوله چي دسولي هرهیئت سره کیني وقدرت دانتقال اوبره مؤقت حکومت د جوړښت او ولس ته د واکمني د ورکولو په هکله خبري اتري وکړي خود دي ترڅنګ په کابل کي ناستو دوستانو داموقع اوفرصت هم دلاسه نه ورکاوه چي دحزب اسلامي په خلاف دتهاجمي حملاتو دامکان په صورت کي هغه اجرا نکړي همداعلت وه چي دحزب اسلامي په خلاف نژدي ۳۰ تهاجمي جنګونو صورت نیولي اوحزب یې مجبور کړي دخپله ځانه دفاع وکړي . په کابل کي ناستودوستانو خپل ټول نظامي مراکز دکابل دښار داوسیدو په سیمو کي ځاي په ځاي کړي و او طبعاً چي حزب به دخپلي دفاع اوترڅنګ یې دمخالفینو د دورتو وسلو د خاموشه کولو په خاطر دهغوي نظامي مرکزونه تر حملي لاندي نیولي وي ، چي په دي توګه دنظامي اهدافو ترڅنګ به عامو خلکو ته هم زیان رسیدلي وي اوددي زیان په هکله په بهرکي دبرزیات تبلیغات دحزب خلاف هم شوي خو برعکس دکابل دمسئولینو بماري میزایل ویشتل اوحملات د تصفیوي عملیاتوتر نامه لاندي دبو نیك اقدام ګڼل کیده .

دغه تاسف ناکه وضعي نژدي دوه کاله دوام وکړ. ددي ټولو بدبختیو ترڅنګ حزب اسلامي وتوانید دخپلو مخالفینو په صفونوکي کار وکړي اودهغوي انډیوالان نه براځي دهغوي څخه جدا کړي بلکه دخپل ځان ملګري یې هم کړي، او په دي ترتیب د ۱۹۹٤ دجنوري په لمړي نیټه یې په کابل کي د ائتلافي اداري په خلاف بوه ګډه جبهه د فشار راوستو په خاطر جوړه کړه . ددي ټولو حالاتو اوشرایطو سره سره بیا هم دولت حاضر نه شو دواکمني څخه ولاس اخستلو له پاره خپل تیاروالي وښئي . په داسي حال کي چي هیڅ بوه هیئت ته یې هم منفي ځواب نه دي ورکړی خو دهیڅ بوه هیئت خبره یې هم نه ده منلي .

،هغوي ته یې واګ ورکړي اودهغوي ترڅنګ یې په کابل دخپلي پنجي دکلکولو له پاره فکرکړي . په کابل کي ناستو دوستانو خپل کدرونه وښئلي ، چي په هغي کي یې استاد رباني دټولو سیاسي معاملاتو دحل وفصل له پاره ټاکلي اوترڅنګ یې انجنیر احمد شاه مسعود اودهغې ملګري دنظامي مسایلو دڅیړلو له پاره بوره فارغ پري ایښي دي . همدا علت دي چي دوي تل که له یوي لوري دسیاسي مصلحتونو په اساس خپلو مخالفینو ته هیئتونه ور استولي دي خودبلي لوري یې په همانه وخت کي پراخه نظامي عملیات هم پیل کړي . چي دهغوي دغسي کار دهغوي مخالفین دهغوي سره په تړونو اوتعهداتو کي په شك کي غورځولي اوباور پري نه کوي.

دکابل دښار په جنوب غربي ، جنوبي ، اوجنوب شرقي سیمو کي د حزب اسلامي اودهماهنګي دشورا دځواکونو موجودیت تل دکابل دمسولینو له پاره دخطر زنګ و ، څکه هغوي په دي ټولو جنګونو کي نه بواځي داچي څه یې ترلاسه کړي نه دي بلکه تل یې که لږ څه ترلاسه کړي ډیر څه یې له لاسه ورکړي هم دي .

اما اوس چي حالات په مکمله توګه تبدیل شوي دافغانستان اسلامي حزب خپل ځواکونه دجنګ دلمړیو لیکو څخه دطالبانو دغورځنګ سره دتصادم څخه دڅان ساتلو په غرض شاته تمبولي ، حزب وحدت اسلامي چي د کابل دښار په زړه کي یې موقعیت درلود اود کابل دمسئولینو دټولو تیریو اوتجاوزاتو په مقابل کي په بوره میړانه یې دخپله ځانه دفاع کړي ، هم خپل موقعیتونه اوسنګرونه دطالبانو پاڅون ته دسولي او امن په خاطر حواله کړي وو که څه هم داسي خبرونه راغلي چي دحزب وحدت مشر استاد عبدالعلي مزاري چي دطالبانو د پاڅون سره دخپلي دفاع په خاطر په خبروکي بوخت و اوس دطالبانو سره د بندي کیدو وروسته په شهادت رسیدلي دي چي دبابد د طالبانو مسئولینو داستاد عبدالعلي مزاري سره دا ډول سلوك کړي والی استادمزاري بومجرب قاید اودبیروصلاحیتونه خاوندو،هغه دبوه تعهد له لاري طالبانوباندي داعتماد په خاطردهغوي لوري ته مراجعه وکړه نو هغوي محترم استاد په شهادت رسولي دي نه بواځي دطالبانو اعتماد ته زیان ورسولي بلکه دشیعه مذهب دکرکي اونفرت باعث هم وګرځیدل او اوس دحزب وحدت ځواکونه هم د طالبانو په واسطه غیرمسلح شوي . په داسي حال کي چي طالبانو باید دحزب وحدت دځواکونو څخه ګټه پورته کړي وای ،خوداسي ونه شول . اودحزب وحدت په بې وسلي کولو طالبانوخپل ډیرڅه دلاسه ورکړل اواوس دکابل دحاکمي اداري دجنګیالیو په مقابل کي په واګه پراته دي همدارازدهماهنګي دشورادیویل لمړي تنظیم جنبش ځواکونه هم اوس دکابل څخه په مکمله توګه بهرشوي اومیدان دکابل مسولینو ته دخپلو اسونو د زغلولو له پاره خوشي دي . نوبه داسي حال کي چي په کابل کي کوم داسي تهدیدونکي ځواك چي دواکمني دلي تهدید نه کړي اودهغوي دکارو فعالیت دایره محدوده ، نکړي ،موجودنه وي . څنګه به ددي توقع اوامید وشي چي استاد رباني خپله واکمني بوداسي چاته وسپاري چي په دي ټول انقلاب کي ني پوزه هم زخمي شوي نه دي . اوبابه څنګه احمدشاه مسعود دکابل دښارسلطه چي دخپلو جنګیالیوبه وینوني په زورترلاسي کړي داسي بی طرفه ځواکونو ته وسپاري چي پخپله دهغې بقا په خطرکي اچوي اودهغې راتلونکي مغشرشوي .

۲- سکتاریستي فکتور اوپه کابل کي دحاکم ائتلاف اهداف :

دمخکیني ذکرشوي فکتورترڅنګ څیني نورفکتورونه هم شته چي په هغې وله کي دسمت ، ژبي ، قوم ، نژاد مسایلوته ډیره هوا ورکوله کیږي اودا هغه فکتوردي چي په افغانستان کي دکمونستوروژیمونواوپخپله دروسانوځواورته دخپل بقاپه خاطراو ددي فارمول څخه چي قوم په قوم واچوه اوحکومت پري وکړه لمن وهل کیده .

په ګران هیواد کي دروس جاسوسي اداري اکي . جي . بي) دکمونست ګوند دبنسټ دهماغه لمړي ورځي څخه رابدبخوادپښتون اوغیرپښتون په نوم د دغه ګوند ویش و . بوه وله ني چي په کلیوالو سیمو پوري تړلي وه د پښتونولي په بنسټ د نورمحمد تره کي په مشري جوړه کړه اوبله وله ني چي په تعلیم یافته اوښاري سیمو پوري تړي وه دغیرپښتون ببرك کارمل ترمشري لاندي جوړه کړه . په داسي حال کي چي ددغي دواړو ولوفکري اومادي تغذیه دیوه ځایه کیده اوهغه هم د کې جي بي له خواخوبیاهم دهغوي دکارساحي جداوي . هغوي په پخپلو غرضو اومیتنګونو کي بوبه بل دسکتاریزم اونژاد پالني محافظه کاري او ... الزامات لګول خوبه حقیقت کي دهغوي دکار اهداف پوشان وو . دپرچم اوخلق دغه جهتونو په ولس کي داقلیت اواکثریت روحیه راژوندي کړه . چي دکمونستانو په حکومتوکي دغي روحیي ته په داسي حال کي چي خلق اوپرچم بوځاي شوي هم وو پوره پوره هوا ورکول کیده . وروسته بیاروسانو هڅه کوله د کمونستانو بومتحد حکومت منځته راوړي اودهغوترمنځ داختلافاتوخلیج کم کړي اماداورته ممکن څکه نه وه چي د دي دواړو ډلو کدرونو بوبه بل د اعتماد روحیه دلاسه ورکړي وه ، دبله اړخه دهغوي ژبني غرورهم هغوي ته پریښودل چي بودبل دلاسو لاندي کاروکړي . دهغوي همدغه بی لاریو اوظلمونو او په مقابل کي ئې دملت احساساتو اومظلومیتونو هغوي دتاریخ پاڼوته وسپارل خودغه دسکتاریزم تخم چي دوي پاشلي وبه خپل ځای پاته شو .

نوربیا

دمحمود مستیری د سولی هڅی

شمس الرحمن

په افغانستان کي روان بحران د افغان ولس ، ګاونډیو هیوادونو اوملګروملتو لپاره بوه پیچلي ربړه ګرځیدلي چي د حل لاربي په هغه صورت سره نشي موندلاي چي دستونزي اصلي حل وړاندي راشي . له کومه وخته چي په افغانستان کي خپلمنځي جنګونه شروع شوي دبیروسترو شخصیتونو ، قوماندانانو ، علماوو ،قومي مشرانو ، سپین ږیرو ، پوهانو اولیکوالانو په اخلاص سره ددغي ستونزي دمسالمت آمیزه حل لپاره هڅي کړي دي ،دغه راز ګاونډیو هیوادونو هم ظاهراً دافغانانو دریږي دحل و فصل لپاره رسمي اوغیر رسمي ماموریتونه سرته رسولي ،دوضعي په بدلون کي یې ونډه اخستي ده.،خومتاسفانه چي داټولي هلي ځلي لکه څنګه چي ورته امید کیده د بریالیتوب پړاو ته ونه رسیدي په بوه اوبله بهانه سره دهغوکسانو له خوا چي په افغانستان کي دقدرت تقسیم اوحق حقدار ته درسیدو له جایزي او روا روحیي سره څرګند مخالفت لري ، ناکامه شوي اوهمدا علت دي چي دبدبختیو اوجګړو لمن هم نده ټوله شوي ،ملت په راز راز کړاوونو کي لاس او پښي وهي اودبو مبهم سرنوشت سره مخ دي . ددغو هڅو ترڅنګ ملګروملتو هم په افغانستان کي دسولي راوستوانګازي خبري کړي اوخپل بوځانګړي استاځي محمود مستیري یې ددغه ماموریت لپاره افغانستان ته را استولي دي. له بوه کال نه زیاته موده په تیریدو ده چي دملګروملتو استاځي پدي اړوند څوماموریتونه اجرا کړي دي او داسي بریښي چي ملګروملتو پخه اراده کړي چي په افغانستان کي روان بحران ته خاتمه ورکړي اودسولي بیرغ اوچت کړي. محمود مستیري د افغانستان دمستلي دمسالمت آمیزه حل لپاره څلورماموریتونه چي د بریالیتوب څه امیدورته نه کیږي سرته رسولي دي. هغه په دغه ماموریتونو کي دکابل اداري ، دحزب اسلامي دمجاهد قیادت ، دهمآهنګي دعالي شوري ، قومي مشرانو ، سپین ږیرو او له ملك نه بهر افغانانو سره لیدني کتني کړي اود هغوي نظریات یې راټول کړي دي . همدارنګه یې ددغو نظریاتو په رڼاکي خپله طرحه هم وړاندي کړي چي داطرحه له نیکه مرغه ترکومه چي په حزب اسلامي اودهمآهنګي په عالي شوري پوري اړه درلوده ، دبو معقول او برحقه شرط په وړاندي کولوسره چي ، دا طرحه دټول ملت په ګټه اواسلامي حکومت د جوړیدو منافي ونه ګرځي ، په ورین تندي قبوله کړي او په عملي کیدوکي یې ورسره مرسته هم کړیده چي دغه یې الایشه مرسته دملګروملتو استاځي ته هم په باګه شوي او داسي څه دهغه له خولي ندي اوریدل شوي چي حزب اسلامي او باهمآهنګي عالي شوري دهغه دسولي هڅي ،نقض کول خوبریږده چي ځنډني کړي یې هم ندي . ولي مقابل لوري نه یوازي دملګروملتو داستاځي دسولي هڅي دناکامي سره مخامخ کړي بلکي په دي اړوند یې ډیر داخلي اوبهرني دسولي ماموریتونه په مایوسي سره دناامیدي په سیند کي لاهو کړي دي حتي دسولي هیئتونه دهغوي له خوا تهدید شوي ، دمرګ ګوابنونه ورته شوي اوبابه بوه لوري پوري په ملګرتیا سره تهمتي شوي او سپکي سپوري ورپسي ویل شوي دي . همدارنګه دمحمودمستیري له خوا دکابل اداري ته د طرحي وړاندي کولو ته ځواب ویل په کراتو مراتو په بوه اوبله بهانه ځنډیدلي اویا یې کوښښ کړي چي دځان په ګټه یې راوګرځوي .که څه هم چي دکابل داداري دوره دڅو ځلي تجدیدیدو سره سره ډیره د وخته پاي ته رسیدلي ده .خو دولت کوښښ کړي چي دي دوري ته البته ددوي په فکر داوږدیدو قانوني لاري ولټوي اوواك یې له لاسه ونه وځي .خو بیاهم دبته مجبورشول چي بوه میاشت وړاندي یې دمحمود مستیري سره ددي وعدي په باګه اعلان وکړ چي د ۱۳۷٤ لمریز كال په لومړي نیټه به بیله قیدو شرط قدرت بوي جوړي شوي شوري ته انتقالوي . محمود مستیري ددغي شوري دجوړیدو لپاره خپل ځلور تنه نمایندګان وګمارل ترڅو پدي مسئله باندي کار وکړي .دیادوني وړ خبره داده چي ددغي بوي میاشتي په دوران کي په هیواد کي هسي نه تصورکیدونکي تحولات منځ ته راغلل چي هم دکابل اداري ته دبخواني عادت سره سم دبوي بلي بهانې پیداکیدو چانس پیداشو اوهم د ارمانجنو هیوادوالو دنوي کال په راتللو سره دنویو هیلو دراپیداکیدو خوشحالي بوځل بیا په مایوسي بدلي شوي. ددغو نویو تحولاتو بوه برخه دطالبانود ولي په ډیره چټکي سره دکندهار څخه دکابل ښار دروازو ته رارسیدل اوبالاخره دکابل اداري سره په سختو جګړو کي اخته کیدل و چي دکابل اداري اوس هغه بلاقیدو شرط تعهد ته حیله پیدا کړي او وایي چي پدي شرایطو کي به دقدرت انتقالول ګران کار وي . دا چي د طالبانو وله ولي په دومره چټکي اودحزب اسلامي دمقاومت پرته کابل ته راورسیده اوحزب اسلامي هم خپل سنګرونه بدل کړل اوګوښه کیناست ،یوله نري اوغرض خاوندان یې په حیرت کي اچولي دي . په اصطلاح دملا او طالب په نامه دخلکو راولاړونکو داسي اټکل نه کاوه چي حزب اسلامي دي دهغوي مخي ته خنډ نشي او دوی دي په آساني کابل ته ورسیږي . هغوي تر مخ ددي چي حزب اسلامي دخپل مجاهدانه توبنت څخه کار واخلي ، داتبلیغات اچولي ؤ چي حزب اسلامي دملا اوطالب دښمن دي هغوي ته غواړي چي د دین عالمان دي اسلامي حکومت راولي!،...

خوکله چي حزب اسلامي د سنګرونو دبدلیدو ابتکار وکړاواعلان یې وکړ چي حزب اسلامي طالب اودیني عالم دوست ګڼي ،نه موغوبنتل چي په دووجهو کي وجنګیږو نو په خپله خوښه اوبیله جنګه موسنګرونه پریښي اوګوښه شوي یو ترڅو دراتلونکو حالاتو ځارنه وکړواو دا هم خلکوته ثابته کړو چي حزب اسلامي اصلاً دجنګ طرفدار نه و او ندي ،هرڅه بي دخداي (ج) لپاره اودمظلوم ملت داوږو څخه د پرتو ستونزودپورته کیدو لپاره اجرا کړي اوکړي یې . خودکابل اداري بیا په همدي وخت کي اعلان وکړ چي موږ دطالبانو سره له اولي ورځي کومك کړي اوکوویي .کله چي طالبانو په خپل شعار ټینګار وکړ چي دکابل اداره هم باید وسلي برځمکه کیږدي اوامنیت دوي ته وسپارل شي نودکابل اداري لپاره داخبره په هیڅ شان دمنلو وړ نه وه اوبالاخره د بوي خونړي جګړي پیل وشو.

طالبانو لومړي دهمآهنګي دعالي شوري دغړي شهید استاد عبدالعلي مزاري ته په دوکي ورکولو سره دهغه دمرکزونو له خوا دکابل اداري پروسله والي بریدونه وکړل . درارسیدلو خبروتو له مخي جګړه په خوراتندي سره روانه ده او طالبان د نیول شویو ځایونو څخه په تیښته کي دي . اوس چي نوي کال رارسیدلي اودکابل اداري دواکمنانو دبلاقیدوشرط د وعدي دپوره کیدو نیټه هم پوره شوي ،خوددولتي منابعو دڅرګندونو څخه داسي معلومیږي چي بیا هم دقدرت دانتقال لپاره نوي شرط پیداشوي اوتیري وعدي نادیده ګڼل شوي دي.که څه هم چي مستیري بیا په لیدنو کتنو شروع کړي خودکړي وعدي نیټه هم پوره شوي اوداسي ټیښي نښاني نه لیدل کیږي چي دمظلوم ملت آه اوفریاد ته دي غوږ نظر وکړي اونوي کال دي دنویو هیلو دپوره کیدو سره بوځاي ورته هدیه کړي . نو ر خوددي کړیدلي ملت لپاره پرته دالله د دربار څخه دڅي ځاي نه دي پاتي شوي ، که داځلي هم دملګروملتو هلي ځلي ناکامیږي ، دقدرت انتقال صورت ته مومي ،دسوکالي اوآرامي لپاره دمناسبو شرایطو څخه ګټه نه اوچتیږي نو

(۳)مخ

استکبارغواړی افغانان په افغانانو ووژنی

س . ق - کندوزي

دامریکا مسلمان وژونکي سیاست

دامریکا دپیدابښت له ورځي د دوي په خلقت کي اخیښل شوي چي دهري ورځي په تیریدوسره دخونخواري امریکي مسلمان کشه سیاست شدت موبي اوغواړي چي دنړي مسلمانان دخپل یهودیت اونصرانیت په سیست کي راونغاړي اوخپله باداري پري حاکمه وساتي

دامریکي نړیوال پانګوال نظام چي نن په نړي کي دڅان سیال نه ویني او د سورجنګ وروسته دنړي دمظلومو اولسونو دبنکیلولولپاره یې پلي کړي اوغواړي دنړي په هرګوټ کي چي مسلمان اولسونه وي د دغه ناولي نظام ترسیوري لاندي وځپي خو ددي شوم اوغیرانساني نظام د ټینګښت لپاره د امریکي سري وژونکو مشرانو په رازرازپلمو قدم په قدم ګامونه اوچت کړي ترڅومظلوم اولسونه مخصوصاً دمسلمانانو په ځپلو خپل یهودیت ته پري وده ورکړي اومظلومان پدي ترګه دوږو، زړله لاري دڅان تابع اوذړوند اوشتمنیو څخه یې دڅان په نفع کاراواخلي .

په افغانستان کي نني ستونزي دکفري پلانونو د لړي بوه کړي ده چي پرلپسي داځوکاله دا مجاهداولس دخپل منځي کشمکشونوبه اورکي سوزي او دمرګ ، ژوبلو او ورانیو سبب ګرځیدلي دي . استکباري ښکیلاك چي په راس کي یې امریکا قرارلري داسلامي خوځښتونو اوقیادتونوبي سپي یې راخستي اونه پریږدي چي دنړي په هیڅ ګوټ کي اسلامي تحریك اوخوځښت سراپورته کړي اوکه چیري دغسي حقباله خوځښت اوقیادت دحقي لاري ته درابللو ګونګسي هم وکړي نوډوانده څخه ترکانه پوري به پري امریکا وتروریست افراطي نه پوځلاکیدونکي ، قاچاق بر، دهشت اچونکي اودهغوي سره د لاس لرلو په تورتوروتوي اوبیایي دخپلوګرواګیو رژیمونو په وسیله له منځه وري ترڅویي دحق ناري نورو ځایونه ونه رسي اوورښي ونه ځغلوي .

دامریکا دوه مخیزسیاست په داسي کړنلارو بناشوي چي په ظاهره دکومك ترعنوان لاندي خواخوږي اوپټ په زړه کي د دوستي په جام کي زهروورکوي ترڅو یې په مرګ خپل خپلوان هم آګاه نشي .

کفارخپل سیاسي شوم اعمال چي په هره بیه اوتوګه وي عملي کول غواړي ولوکه په هرڅومره قیمت ورته تمام شي خودخپل غرض څخه تیریدونکي نه دي .

تولي نړي په روښو سترګولیدل چي دغرب مخکښي امریکي دخپل نظامي اوسیاسي سیال (روس) په ګوند وکولوکي له افغان مجاهدینو سره څه دول معامله وکړه او دروس ترماتي وروسته یې دافغان مجاهدینو دمخښوي اودریښتني اسلامي نظام د وپ کولو په خاطریې څه دول کړنلاره خپله کړي امریکاد بوسینا،چیچن ،کشمیر،الجزایراوفلسطین په هکله څنګه ګونګه خوله اوکښه ده ؟

اوبرعکس دامریکا د دوه تنو سفارت کارانو وژل کیدل په پاکستان کي،څومره غوغاجوړه کړي چي په عوض کي به یې څومره بې ګناه مسلمانان له منځه ځي ، دغه رازیي په افغانستان کي دخپلو ناروا ګټودساتلو په غرض دڅومره انسانانو وینې وبهولي چي لاتن هم پري مړه نه ښکاري ، لګیا ده په رنګارنګ توطیو ، دسیسو ، د زراوزور، د ترور اواختناق په کاراچولو، دتریګنیوبه تازه کولو، دنژاد ، مذهب ،سمت په رامنځته کولو سره یې افغان وروته مجاهدین سره واچول اودخپلو ګوډاګیانو د(کمونستانو) دپایښت لپاره یې لاره پرانستله ، که څه هم امریکامستقیماً د مسلمانو افغانانو دایماني جذباتودمقابلي ته ده خو د منطقوي مرتجمیبواوداخلي ګوډاګیانو په اخستلو اوګمارلوکي تربوحده بریالي ښکاري . اوس یې چي توطیي اودسیسي شنهي شوي ،ظلم اوجادو یې کارنه کوي نودزراوپیسو په شند لوبي نوري نوي دلي رادمخه کړي چي ترمخ افغانان اوترشایي استعماري لاس کارکوي ، چي په دي دول په افغانان نورهم په تعصبي اوفرقوي اورکي لولپه کړي اوداوږدي مودي لپاره به دافغانانو داسلامي انقلاب د ځیو څخه ځان وژغوري .

افغانان باید په اسلامي درك سره دامریکا دغه مسلمان وژونکي سیاست باندي ځان آګاه اوپوه کړي چي امریکانوریه غبردي چي افغان په افغان باندي ووژني ، نوري بلمي یې شندي ، زړي اوله کاري لویدلي دي . همدارازافغانان باید نو رد مستیري دهلوځلو ، دیردیو دسولي دهیئتونو په انتظارنشي بلکي دخپل خداي (ج) په مرسته ، دایمان او وجدان په محکمه کي سره تول ، دخپل ایمان اوعقیدي په زور د وحدت اویوالي په رڼاکي دخپل ځریدلي اوکړیدلي اولس په حال رحم وکړي اودخپلو ذاتي ګټوڅخه دي تیراو د اسلامي نظام په قایمیدو سره دي خپل وطن اوملت آباد اوښیرازکړي اوزیاتي دي داخرت دګټوبه خپلولو ، خپل کړنلاره وټاکي څو ملت نور دهوساېي اوآرامي ساه واخلي اودشهیدانو اومعیوبانومجاهدینو د زړه ارمان ترسره اودپلي کونکو یې عظیم اجرنصیب شي .

زندگینامه مختصری از رهبرشهید ، عبدالعلی مزاری

زندگي • رهبر شهيد • ،عبدالعلي مزاري ،تصوير روشني اززندگي مردمش درتاريخ پر ادبار كشور است : دره فقر • و • محروميت • زاده ميشود ، درآواره گي ومهاجرت (حتي دركشور خود) زندگي مي كند و در نيكنامي ومظلوميت درميان ملت خود مي ميرد.

تاريخ دقيق تولد • رهبر شهيد • مزاري ،تاكنون مشخص نيست ، اما اينقدر معلوم است كه درسال ۱۳۲۵ هـ . ش . دريك فاميل زراعت پيشه فقير ، درقريه نانوايي چهار كنت مزار شريف ولايت بلخ متولد شد وتحصيلات ابتدايي اش را دررشته علوم ديني درمدرسه قريه آغاز كرد وبعداً درمزارشريف ، حوزه علميه قم ونجف اشرف ادامه داد ؛ اما درتمام اين مدت درد خود ومردمش راچون تصوير روشني در برابر خود ميديد وبراي رفع آن ، صادقانه وخستگي ناپذيرتلاش مي كرد. مبارزات سياسي • رهبر شهيد • در ايران ، منجر به چندين بار زنداني وشكنجه شدنش از سوي رژيم شاهي گرديد.

همزمان با تهاجم ارتش سرخ دركشور ، • رهبر شهيد • به زادگاه خود برگشت ورهبري جهاد مسلحانه مردمش رابه عهده گرفت حماسه آفريني هاي • رهبر شهيد • درچهاركنت ،شولگر ،چمتال وساير نواحي شمال ، افتخار جاودان قيام برحق ملت ماست . او در اولين سالهاي جهاد برادرجوانش "محمد سلطان " رادريك نبرد رويارويي با ارتش اشغالگر ونيز خواهر وجمعي ديگر ازاعضاي فاميلش راازدست داد . كاكايش " محمد جعفر "وپسركاكايش "محمد افضل "توسط رژيم دست نشانده زنداني وبه شهادت رسيدند . همچنين پدرش حاجي خداداد وبرادرش حاجي محمد نبي رادر راه انقلاب وآزادي ملتش هديه كرد.

• رهبر شهيد • از بنيانگذاران مخلص حزب وحدت اسلامي وعضو صادق ، شجاع وايثارگر آن بودكه دركنگره اول رياست شوراي مركزي ، ودركنگره دوم رهبري حزب وحدت اسلامي را عهده دارشد .

رهبري «مقاومت » و دفاع مقدس مردم آزاده ما درشهر خون وقيام كابل، اسطوره • جاودان مبارزه براي هميشه تاريخ است. دراين مدت • رهبرشهيد • گام به گام ملت سرافراز خود ، ازعزت ، عظمت وناموس ملي به دفاع برخاست وبا پايداري ،قاطعيت ، صداقت وتدبير خود، زنجير هاي «انحصار» و «تبعيض » رادرهم شكست ، پيش از بيست وشش جنگ وحشيانه را دفع كرد وبراي مردم خود تعهد سپرد كه : " من هيچ منافعي غير ازمنافع شما مردم ندارم وهرگز از خدا نخواسته ام كه بدون شما در جايي بروم تا جان خود رانجات بدهم وشما را در معركه تنها بگذارم ... خواسته ام كه دركنار شما ،خونم اينجا بريزد ودربين شما كشته شوم ... درخارج از كنارشما ، زندگي برايم هيچ ارزشي ندارد".

• رهبر شهيد • مؤذن • حقوق انساني • و • برادري اسلامي • همه • مردم كشور بود وتاكيد ميكرد كه " حقوق خراسان به معناي برادري مليتهاست ، نه دشمني مليتها " اوباقاطعيت مي گفت : " مادرافغانستان هيچ چيز نداشته ايم وهيچ چيز اضافي نمي خواهيم ،ما فقط خواسته ايم كه زنجير انحصار را بشكنانيم • رهبر شهيد • در راستاي ايجاد وحدت ملي راستين ،ابتكار ارزنده • شوراي عالي هماهنگي راداشت كه درآن به كمك ساير مسئولين مخلص براي اولين بار تجربه موفق • برادري • و • برابري • مليتهاي ساكن دركشور ، به آزمون گرفته شد.

• رهبر شهيد • با اين ابتكار، فضاي سياه بدبيني وخصومت ناروا ميان مليتهاي ساكن دركشور را – كه ناشي از سياست شوم حاكمان بي خرد افغانستان بود – به فضاي سالم اخوت وبرادري وهمسويي تبديل كرد. • رهبرشهيد • ازجو آلوده واهانتبار حاكم ميان مليتهاي كشور سخت رنج مي برد . چنانچه درپاسخ به سوالي كه شما براي مردم تان چه ميخواهيد ! با صراحت گفت كه : " ما براي ملت خود ، فقط اين راميخواهيم كه ديگر • هزاره بودن • شان جرم نباشد . " فاجعه • خونين افشار، تلخترين حادثه • زندگي • رهبر • بود كه هرباري از آن ياد مي كرد ، اشك در چشمانش حلقه ميزد وميگفت :

" كاش زنده نمي بودم وفاجعه • افشار را نميديدم " . اودرسخنراني اي كه بتاريخ هشت ثور ۷۲ ، به مناسبت اعدام خائنين افشار ايراد كرد . گفت : " فاجعه • افشار تمام باور هاي ما راتغيير داد . " نفرتي كه براي «رهبر» ازمعامله گران وخائنين افشار ايجاد شده بود ، ريشه درعمق فاجعه اي داشت كه هميشه او را رنج ميداد . در سخنراني تجليل ازشهداي ۲۳ سنبله ۱۳۷۳ ، استاد مزاري ، كه آتشفشان قلبش را اندكي باز كرده بود ، در حالي كه آه آتشين ازسينه بيرون ميداد ، گفت : " قضيه • افشار وفاجعه• دردناك آن كه تا مردم مازنده اند وتانسل هاي آينده • ما باشند ، ازآن رنج ميبرند وميسوزند . • رهبر شهيد • ، مزاري ، بيشتر از همه ، رنجهاي زندگي اش ، ازنامردي هاي خيانتكاران ومعامله گران بيگانه ازمردم رنج ميبرد وهميشه دلي پرخون داشت ؛ • تشيع دربار • كه طينتاً وخصلتاً چاكر است ، همواره او راتحت فشار ميگذاشت و به بهاي خون فرزندان مردم ، بردست جلاد بوسه مي زد . توطيه • ۲۳ سنبله • ۱۳۷۳ خطرناكترين وموذيانه ترين توطيه خاينانه • زمامداران وقت به همدستي • تشيع دربار • بودكه با درايت وقاطعيت • رهبر شهيد • وفداكاري مردم آگاه وآزاده ، كابل خنثي شد. پس ازاين توطيه ، • تشيع دربار • از درون ملت تصفيه شد ،و با قرار گرفتن در آغوش باداران خود ، ماهيت اصيل ضد مردمي خود را برملاساخت . نامردي ها ونامردمي هاي • تشيع دربار • به جايي رسيد كه سيد حسين عالمي به عنوان سخنگوي دولت نام نهاد وبه اشاره باداراتش علناً بر عليه مردم ما جبهه گرفت وآنچنان رسوا ونامردانه به تبليغ پرداخت كه رهبر شهيد خطاب به مردم گفت :" آدم بايد در زنده گي خود اينقدر بي عرضه وبي اراده نباشد . يكبار مردن است ويكبار زنده شدن ،دوبار نيست ! "

پس از تمامي شكست هاي دشمنان درتهاجم برمردم ما ، باز هم اين تشيع دربار بود كه آنان رابه تهاجم وتسخير غرب كابل تحريك ميكرد . پس از تخليه ، كابل ازنيروهاي حزب اسلامي ،تشيع دربار ، برنامه ويژه • تبليغي برعليه مردم غرب كابل را از طريق راديوي شوراي نظاريه راه انداخت و ...

پس از عقده گشايي هاي وحشيانه دراواخر ماه دلو، • رهبر شهيد • ومردم قهرمان غرب كابل ، مدافعه • حماسي وغرور انگيزي را تا روز شنبه بيست ويكم حوت انجام دادند واز ايستادگي خود در برابر سهمگين ترين تهاجمات هوايي وزميني دشمنان خصوصاً درآخرين حمله • سه روزه اش ، اسطوره• مقاومت را جاودان ساختند.

